دنيا د مؤمن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت دی

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: "دنيا د مؤمن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت دی".

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې دنيا د مؤمن لپاره لکه د زندان په څېر ده، ځکه چې هغه په شرعي واجباتو پابند دی، په څه چې ورته امر شوی بايد عمل پرې وکړي او له څه نه چې منعه شوی بايد ويې نه کړي، نو کله چې مړ شي، له دې کړاوونو راحت مومي او هغه تلپاتې نعمتونو ته ځي چې الله تعالی ورته چمتو کړي دي، خو دنيا د کافر لپاره لکه جنت ده، ځکه هغه هر څه کوي چې زړه يې وغواړي او نفس يې ورته امر کوي، خو کله چې مړ شي، د قيامت په ورځ د تل پاتې هغه عذاب سره مخ کېږي چې الله تعالی ورته چمتو کړی دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3584